


د مولانا سعيد افغاني :آزاده ، تولنيزه،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# نجم الرحمن « مواج »

د نشرنيټه : 4 اګست 2019 م

# ولاړل

ارمانونه توفانی وو د توفان ګوتو ته ولاړل
توفانونه ارمانی وو دارمان ګوتو ته ولاړل
د يوبل نه پېژندو کې پېژندنه شوه ميراته
ځمکني چې اسمانی شول د اسمان ګوتو ته ولاړل
د کارګر کرګر کوډله نشوه جوړه کنډواله شوه
شول ياران يې ترمې ترمې دهجران ګوتوته ولاړل
سياست ځمکې نه ژمنه له ريښې ايستله شوې
نابلديې دهقانان وو د تاوان ګوتوته ولاړل
د زمان جرس ته غوږ وو د مکان پاڼه وه ورکه
د تلفيق نه واکمنۍ کې د زمان ګوتوته ولاړل
سياسی ماتې بل لوست دئ سياست په پوهنتون کې
د کتاب متن شوپاتې دعنوان ګوتوته ولاړل
ارماني ځلي کاواکې هيله من زړونه تناکې
غړوسکې وريځې تورتمونه د باران ګوتوته ولاړل
هغه سرې سرې مرغلرې سترګکونه کړي له لېرې
لامبوزنو پته نشته يا پښيمان ګوتوته ولاړل
استدلال ته سياست کې کله ځای هم دپښې نه وي
مواج بوخت خپلو ځپوکې ډيرۍ پاڼ ګوتو ته ولاړل

***

نجم الرحمن « مواج »

بازگشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org